مجلۀ علمی – تحقیقی تاج
Taj Academic and Research Journal

تاریخ دریافت: ۱۴۰۴/۷/۱۲
تاریخ پذیرش: ۱۴۰۴/۱۱/۲۹
تاریخ نشر: ۱۴۰۴/۱۲/۲۷

https://www.taj.edu.af/magazine/index.php
دورۀ دوم، شمارۀ دوم، خزان و زمستان ۱٤۰٤

P- ISSN:2664-9144
E- ISSN:3106-4191
DOI: http://doi.org/10.63616/taj.V.02.I.02.02

د نښه يي توکو له استعمال څخه د مخنيوي، شرعي او حقوقي لارې چارې

پوهنوال روح الله نجم[۱] ، پوهنمل احسان الله فيصل[۲]

لنډيز

د نشه يي توکو استعمال د انساني عقل، صحت او ټولنې لپاره يوه لويه ناوړه پديده ده چې اسلامي شريعت يې کلک مخالفت کړی او د مخنيوي لپاره يې ګڼې شرعي لارې چارې وړاندې کړې دي. دا موضوع له دې امله ډېره ارزښتمنه ده چې نښه يي توکو استعمال د فرد او ټولنې لپاره خورا خطرناکه ده، نښه يي توکي انسانانو ته يواځې جسماني زيانونه نلري، بلکې د طبي زيانونو ترڅنګ عقيدوي او قانوني زيانونه هم لري، د دې څېړنې موخه دا ده چې د نشه يي توکو د مخنيوي هغه عملي، حقوقي او شرعي لارې وڅېړل شي، چې د قرآن او سنت په رڼا کې انسان او ټولنه له دې خطرناکې بلا وساتي، په دې علمي څېړنه کې چې په کتابتوني ډول وصفي او تحليلي مېتود سره تر سره شوې نښه يي توکو له استعمال څخه د مخنيوي، شرعي او حقوقي لارې چارې څېړل شوی، ددې څېړنې پايلې ښيېچي نښه يي توکو استعمال فرد، ټولنې او په مجموع کې ټول انسانيت ته ستر زيان دی، مونږ ټول هم په فردي شکل او هم په اجتماعي شکل مسؤل يو چې د نښه يي توکو مخنيوی وکړو، په مجموع کې پلار، دولت او هر مسؤل د نښه يي توکو د استعمال په مخنيوي کې ستر رول لري. له پايلو دا هم ښکاري چې که يادې لارې چارې په ګډه او عملي توګه د کورنۍ، علماوو، دولت او ټولنې له خوا پلي شي، نو د نشه يي توکو د استعمال او خپرېدو کچه به په ټولنه کې تر ډېره کمه شي.

کليدي کليمې: اسلامي شريعت، حقوقي او شرعي لارې، مخنيوی، نښه يي توکي

[۱] د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د خصوصي حقوقو ديپارتمنت غړي. ايميل ادرس: roohullahnajam786@gmail.com
[۲] د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د جزاء او جرم شناسي ديپارتمنت غړي. ايميل ادرس: fehsanullh@gmail.com

سريزه

الحمد لله رب العلمين، والصلاة والسلام على قائد المُعلمين، محمدٍ و على اله و اصحابه اجمعين.

امابعد!

اسلامي شريعت ټول هغه څه چې د انسان روغتيا، بدن او روح ته ګټور دي او ښه خوند ولري، حلال ګرځولي، او پر انسان يې مضر- پليت خواړه او نور شيان حرام کړي دي. غيرصحي او کرکجن خواړه او نښه يي توکي خلکو ته ښوول د خدايي دين له وجيبو او خدمتونو څخه دی چې انسانان يې ترې خبر کړي، په اسلامي شريعت کې د مردارو خوړو او نورو مضرو شيانو حرامواليد لاندې مصلحتونو له امله شوی دی:

۱- له ګندګيو څخه لريوالی او د سليم ذوق ساتنه: په دې کې شک نشته چې اسلامي شريعت ځينې خوراکونه او نور نښه يي توکي حرام کړي هغو کې مصلحت دادی چې انسان له ګنده ګي وساتل شي او دده سليم ذوق خراب نشي.

مصلحت په کې دادی چې د ځينو شيانو نه خوړلو له امله له ځينو ناروغيو څخه وساتل شي لکه د سکرو خوړل، ختې خوړل، لرګيو خوړل او نور.

همدارنګه د ځينو خوراکونو حراموالی ددې لپاره چې د انسان سليم ذوق او طبيعت وساتل شي لکه د خوشيانو خوړل، د سپرې خوړل، د غوبارې خوړل د پوزې څخه د بهيدونکو اوبو خوړل او نور.

سليم فطرت او سالم طبيعت ددې شيانو څخه کرکه کوي، په دې اساس که حرام شوي نه وای دا به د انساني سليم طبيعت سره په ټکر کې واقع شوي وو (التويجري، ۱۴۳۰هـ،ص۳۱۴).

۲- د عقل، مال، آبرو او نفس ساتنه: بل ستر هدف په کې دادی چې د حرامو شيانو په نه خوړلو او نه استعمال سره د انسان عقل، مال او آبرو ساتل کيږي، چې هر يو ته په لاندې ډول اشاره کوو:

- د عقل ساتنه: ځرنګه چې عقل د انسان لپاره له ضروريانو څخه ګڼل کيږي، د حيوان او نورو مخلوقاتو څخه يې امتياز هم په همدې عقل سره دی نو ځکه هر هغه خوراک او هر نښه يي توکی چې عقل اخلالوي او يا يې له مينځه وړي هغه حرام شوی دی، لکه شراب، مواد مخدر او نور نښه يې توکي.
- د مال ساتنه: بل حکمت دا دی چې په دې سره د مال ضايع کيږي، په بېځايه داسې شيانو کې چې هغه انسان ته هيڅ ګټه نه رسوي مصرفيږي. چې دا خپله د مال ضايع ده.
- د نفس ساتنه: کله چې له انسان څخه عقل لاړ شي، کله کله انسان خپل ځان د هلاکت کندې ته رسوي او کله کله په لويو جرمونو کې اخته کيږي لکه زنا کول، غلا کول، قتل کول، ځکه دی د ښو او بدو تميز نشي کولی.کله چې دغه شيان حرام شول د انسان نفس له دې ډول هلاکتونو څخه وژغورل شو.

همدارنګه ددې څيزونو په استعمال سره کله کله د انسان آبرو له مينځه ځي، ځکه چې کله انسان سره عقل نه وي، ښه او بد ونه پيژني او يا ورسره عقل وي خو کم وي، ګټه او تاوان باندې نه پوهيږي، چې آبرو او عزت يې له مينځه ځي. لکه د اوسنيو چرسيانو او پوډريانو حالت.

په دې اساس دا چې ددې ناوړه عمل څخه د مخنيوي په موخه اسلامي شريعت او قانون کومې لارې چارې ښوولي، په دې څېړنيزه مقاله کې به بيان شي.

د څېړنې موخې

اصلي موخه: په افغاني ټولنه کې د نښه يي توکو له استعمال څخه د مخنيوي، شرعي او حقوقي لارې چارې پېژندل!

فرعي موخې:

۱- د نښه توکو د استعمال څخه په مخنيوي کې مؤثرې لارې په ګوته کول؛

۲- د نښه توکو د استعمال څخه په مخنيوي کې د کورنۍ او دولت رول څېړل؛

۳- د صالحو ملګرو غوره کولو اغيز او اهميت په ځوانانو کې د نښه يي توکو د مخنيوي لپاره څېړل؛

۴-- د ټولنيزو او اقتصادي عواملو لکه بېکارۍ او د کار فرصتونو رول په مخنيوي کې تحليل کول؛

۵- د عامه پوهاوي او د شواهدو په رڼا کې د نشه يي توکو د زيانونو عامه پوهاوی ارزول.

د څېړنې پوښتنې

اصلي پوښتنه: ايا په اسلامي شريعت کې د نښه يي توکو له استعمال څخه د مخنيوي لارې چارې ښوول شوي؟

فرعي پوښتنې:

۱- د نښه توکو د استعمال څخه په مخنيوي کې مؤثرې لارې کومې دي؟

۲- د نښه توکو د استعمال څخه په مخنيوي کې کورنۍ او دولت څه رول لري؟

۳- د صالحو ملګرو غوره کول څنګه د ځوانانو په شخصيت او د نشه يي توکو په استعمال اغيز کوي؟

۴- د بېکارۍ او اقتصادي ستونزو شتون څنګه د نشه يي توکو د استعمال لامل ګرځي، او د حل لارې چارې څه دي؟

۵- د خلکو د پوهاوي زياتوالی په نشه يي توکو د استعمال په کمولو کې څومره مرسته کوي؟

د څېړنې ستونزه(بيان مسئله)

د نشه يي توکو استعمال د نړۍ په ډېرو ټولنو کې د جدي ستونزو څخه شمېرل کېږي، چې نه يوازې د فرد پر روغتيا، عقل او شخصيت ناوړه اغېز کوي، بلکې د کورنۍ او ټولنې د ورانېدو لامل هم ګرځي. افغانستان د اوږدو جګړو، بېکارۍ، فقر او د سرحدونو د کمزورۍ ځانګې له امله د نشه‌يي توکو له جدي ګواښ سره مخ دی. د نشه‌يي توکو د کرکېلې، قاچاق او استعمال پراختيا نه يوازې د اسلامي شريعت له اصولو سره په ټکر کې ده، بلکې د افغانستان د نافذو قوانينو او نړيوالو حقوقي اسنادو خلاف عمل هم بلل کېږي.

سره له دې چې د شريعت احکام د عقل، ځان او مال د ساتنې حکم کوي او ملي قوانين هم د نشه‌يي توکو پر ضد جزايي تدابير لري، بيا هم د عامه پوهاوي کموالی، د قانون د تطبيق نيمګړتيا او د ټولنې ځينې ناسمو دودونو د دې ستونزې د لا پراخېدو زمينه برابره کړې ده. له همدې امله د دې موضوع علمي څېړنه اړينه ده تر څو د نشه‌يي توکو د استعمال د مخنيوي شرعي دلايل، حقوقي لارې چارې او ټولنيز اړخونه په منظم ډول وڅېړل شي او د حل لارې وړاندې شي.

د څېړنې ارزښت

د احکامو په تشريع کې د اسلامي شريعت اصلي هدف د انسانانو دنيوي او اخروي مصالح دي، له همدې امله ددې دين د قوانينو او احکامو اساس د (جلب المصالح و درء المفاسد) په قاعدې سره اښتی دی، هر هغه څه کې چې د انسانانو دنيوي يا اخروي ګټه وي، هغه يې مشروع کړي او هر هغه څه کې چې د انسانانو دنيوي يا اخروي زيان وي، هغه يې منع او ناروا ګرځولي دي.

د نښه يي توکو د استعمال په دنيوي زيانونو کې د ټولو انسانانو اتفاق دی حتی هغه څوک چې په الله او اخرت ايمان نه لري، هغوی هم دا مني چې دا ډېر جسمي، فکري، روحي او اخلاقي زيانونه لري، په دې مقاله کې به په دې پوه شو چې له پورته زيانونو

سره سره ددې توکو استعمال په دنيا او اخرت کې ډېر شرعي او قانوني زيانونه هم لري چې په دنيا په اخرت کې به ورسره محاسبه کېږي او سخته سزا به ويني.

تېرو آثارو ته کتنه

د نشه يي توکو د استعمال او د هغې د مخنيوي په اړه د اسلامي شريعت د لارښوونو موضوع د تېر وختونو ډېرو څېړونکو، مفسرينو او فقهاو له خوا تر بحث لاندې راغلې ده. د اسلامي فقهاو تقريباً په اکثرو کتابونو کې دا موضوع شتون لري . همدارنګه م ددې موضع اهميت ته په کتو معاصرو ليکوالانو هم ډېرې ليکنې کړي چې مشهورو ليکنو څخه يې دلته يادونه کوو:

۱- تحريم الخمر والمسکرات: مؤلف :شيخ محمد بن ابراهيم آل الشيخ (مفتي عام سعودي عربستان، م ۱۳۸۹هـ) په دې رساله کې د قرآن، سنت او اجماع له مخې د نشه لرونکو موادو تحريم مفصل بيان شوی، او د ټولنې د پوهاوي او سزاګانو اړتيا پکې ټينګار شوې ده.

۲- فقه الحلال والحرام: دکتور يوسف القرضاوي ليکلي، په دې کتاب کې د نشه يي توکو د تحريم شرعي دلايل د ټولنيزو او روغتيايي زيانونو سره يو ځای څېړلي دي.

۳- د نشه يي توکو حقوقي او شرعي اړخونه: مؤلف :ډاکټر محمد هاشم کريم کابل پوهنتون، ليکوال څرګندوي چې د نشه يي توکو استعمال يوازې د شرعي لحاظه حرام نه دی، بلکې د افغانستان د نافذو قوانينو له مخې هم جرم ګڼل کېږي. د شريعت او قانون ترمنځ يووالي د مخنيوي لپاره تر ټولو اغېزمنه لاره ګڼي.

۴- د نشه يي توکو پر ضد د اسلام دريځ: مولوي حبيب الرحمن لودين ديني عالم او ليکوال، په کتاب کې د قرآن او سنت دلايل وړاندې شوي، چې هر ډول نشه يي مواد د عقل او صحت لپاره خطرناک دي او د ټولنې د فساد سبب کېږي. د ديني علماوو د تبليغ رول ته ځانګړې توجه شوې ده.

۵- د اعتياد ټولنيزې اغېزې په افغانستان کې: ډاکټر عبدالقدير واصف ټولنپوه، هرات پوهنتون، کتاب د افغانستان د ځوانانو په منځ کې د نشه يي توکو د استعمال ټولنيز عوامل څېړي (بېکاري، فقر، کمزوری تعليم). حل يې د ديني پوهاوي ترڅنګ د کارموندنې او اقتصادي پرمختګ په برابرولو کې ويني.

٦- اسلام او د نشه يي توکو مخنيوی: مفتي عبدالظاهر صافی ، په دې اثر کې ليکوال وايي چې د نشه يي توکو کارول د شريعت د مقاصدو خلاف دي، ځکه عقل او نسل له منځه وړي. د حل لپاره يې د امر بالمعروف، د جزايي سزاګانو عملي کول او د ټولنيز پوهاوي پروګرامونه مهم ګڼي.

۷- د افغانستان په قضايي نظام کې د نشه يي توکو پر ضد مبارزه: قاضي عبدالروف حسني، ليکوال د افغانستان د جزا قانون، مدني قانون او د شريعت تر منځ اړيکه څېړي او وايي چې د دولت، پوليسو او محاکمو عملي اقدام د شرعي لارښوونو سره سم د نشه يي توکو د مخنيوي لپاره اړين دی.

لنډه دا چې د افغان معاصرو ليکوالو اثار په ګډه ټينګار کوي چې د نشه يي توکو د مخنيوي لپاره يوازې وعظ او تبليغ بسنه نه کوي، بلکې د شرعي لارښوونو تر څنګ بايد قانوني تطبيق، اقتصادي پرمختګ، ټولنيز پوهاوی او د کورنۍ ونډه هم په پام کې ونيول شي. د دې اثارو ګډ پيغام دا دی چې د نشه يي توکو استعمال د ټولنې د معنوي او مادي زوال لامل دی، او د شرعي او حقوقي لارښوونو يوځای عملي کول يې د حل يوازينۍ لاره ده.

خو زما د ليکنې توپير له پخوانينو ليکنو سره په لاندې ټکو کې دی:

۱- په ځانګړې موضوع تمرکز: پخوانۍ اثارو عمومي بحث کړی دی، لکه د اسلام د دریځ یا ټولنیزو اغیزو عمومي تحلیل، خو زمونږ تحقیق په افغانستان کې د نشه یي توکو د مخنیوي لپاره د شرعي لارې چارې ځانګړې تمرکز لري، یعنې نه یوازې شریعت او قانون، بلکې د کورنۍ، ټولنې او اقتصادي فکتورونو اړوند عملي سپارښتنې وړاندې کوي.

۲- ملي شواهد وړاندې کول:پخوانۍ اثارو ډېر یې نړیوال یا اسلامي ټولنیز مثالونه وړاندې کړي، خو دا ځېنې د افغان ټولنې او معاصر شرایطو لکه د کورنۍ رول، بېکاري، ځوانانو ته کار، او د افغان قوانینو سره همغږي شواهد وړاندې کوي.

۳- عملي لارښوونې: پخوانیو لیکوالو بحثونه ډېر نظري دي، خو دا ځېنې د عملیاتي سپارښتنو سره وړاندې کېږي، لکه: د والدینو د روزنې کړنې، د صالح ملګرو غوره کول، د نشه یي توکو د زیانونو په اړه عامه پوهاوی، د کار زمینه برابرول

۴- ټولنیز او شرعي ترکیب: پخوانۍ اثارو اکثره یا شرعي (فقهي) اړخ روښانه کړی یا ټولنیز اثرات، لږ یې دواړه یوځای کړي، خو دا ځېنې دواړه اړخونه په یو ځای وړاندې کوي: د اسلام د اصولو تطبیق په معاصر ټولنیز او اقتصادي شرایطو کې.

لنډه داچې دا ځېنې د موضوع عملي، محلي او د دواړو (شرعي او ټولنیز) اړخونو په ترکیب کې نوې ده .دا ځانګړتیا زمونږ کار د پخوانیو اثارو څخه بېلوي او کړي او د ځېنې اصلیت زیاتوي.

د څېړنې میتود

دا څېړنه د کتابتوني ـ تحلیلي میتود له لارې ترسره شوې ده. د اسلامي شریعت نصوص (قرآن او سنت)، د فقهي منابعو اقوال څخه معلومات راټول شوي او بیا د معلوماتو د تحلیل لپاره د توصیفي ـ تحلیلي تګلارې څخه استفاده شوې، تر څو د د نښه یي توکو له استعمال څخه د مخنیوي شرعي او حقوقي لارې په روښانه ډول وڅېړل شي.

د نښه یي توکو له استعمال څخه د مخنیوي، شرعي او حقوقي لارې چارې

وړاندې مو وویل چې نیشه توکي یو له هغو ناوړه ځیزونو څخه دي چې د انسان عقل له مینځه وړي، کوم چې د شرعي مقاصدو یو له پنځه مقصدونو څخه شمېرل کېږي، په دې اساس اسلامي شریعت ددې ناوړه عمل له پېښېدلو څخه مخکې د یو لړ وقایوي لارو چارو سپارښتنه کړې چې په لاندې ډول بیانېږي:

۱- د نښه یي توکو له استعمال څخه د مخنیوي په اړه د والدینو رول

د نښه توکو له استعمال څخخه د مخنیوي لومړۍ لاره والدین دی چې دوی کولی شي خپل ځان او هم کورنۍ له دې ناوړه عمل څخه وژغوري، دا ځکه چې والدین پر کورنیز چاپیریال مستقیم اغېز لري، دوی کولی شي چې لاندې کړنې ترسره او خپله کورنۍ خوندي کړي:

۱-۱- خپلو اولادونو لپاره قدوة (نمونه) جوړېدل: له نمونې څخه زده کړه کول د روزنې تر ټولو غوره وسیله ده، دا داسې روزنه ده چې په نفسونو کې ډېر ژور ځای نیسي، بله دا چې معلومه خبره ده چې زوی د خپل پلار په څېر وي، مشاهدو او تجربو ښوولې ده چې زوی د پلار او لور د مور کاپي وي.

همدې وجهې څخه په حدیث کې را ځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلَّا يُولَدُ عَلَى الفِطْرَةِ، فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ، أَوْ يُمَجِّسَانِهِ».(البخاري،۱۴۲۲هـ.ق،ج۲/ص۹۵).

ژباړه: هر ماشوم لومړی پر خپل فطرتي دین پیدا کېږي، خو بیا وروسته یې مور او پلار له لاسه یا یهودي شي یا نصراني شي او یا هم مجوسي شي.

محمد فواد عبد الباقي د حدیث په شرح کې لیکي: والدین یې ځکه له فطرت اړوي چې (بترغیبهما له في ذلك أو بتبعیته لهما).(شرح مسلم،ب.ت، ج۴/ص۲۰۴۷).

یعنې: یا دوی همدې لوري ته ترغیب ورکوي او یا اولادونه ددوی پیروي کوي.

۱ – ۲- د کورنیو ستونزو حل کول: کله چې په کورنۍ کې ستونزې او مشکلات پیدا شي، والدینو ته په کار دي چې په خپله یې د حل کولو هڅه وکړي، دا ستونزې زامنو او اولادونو ته په غاړه کې وا نه چوی، که هغوی ته په غاړه ور واچول شي، نو په کورنۍ کې د ستونزو زیاتوالی ددې لامل کېږي چې ماشومان د فشار او اضطراب سره مخ شي، ددې لپاره چې له فشار او اضطراب څخه خلاص شي، دوی نېشو ته مخه کوي.

حدیث کې راځي: «أَلاَ كُلُّكُمْ رَاعٍ وكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، فَالإِمَامُ الَّذِي عَلَى النَّاسِ رَاعٍ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالرَّجُلُ رَاعٍ عَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ، وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ، وَالمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ عَلَى أَهْلِ بَيْتِ زَوْجِهَا، وَوَلَدِهِ وَهِيَ مَسْئُولَةٌ عَنْهُمْ» (البخاري،۱۴۲۲ه،ج۹/ص۶۳).

ژباړه: خبر اوسئ! ستاسې هر یو شپونکی دی او هر یو د خپل رعیت مسؤل دی، پر خلکو مشر شپونکی دی، د خپل رعیت پوښتنه به ترې کېږي، سړی شپونکی دی د خپلې کورنۍ پوښتنه به ترې کېږي، ښځه شپونکی ده د مېړه د کور او اولادونو پوښتنه به ترې کېږي.

ابن حجر رحمه الله ددې حدیث په شرح کې وایي: « وَرِعَايَةُ الرَّجُلِ أَهْلَهُ سِيَاسَتُهُ لِأَمْرِهِمْ وَإِيصَالُهُمْ حُقُوقَهُمْ وَرِعَايَةُ الْمَرْأَةِ تَدْبِيرُ أَمْرِ الْبَيْتِ وَالْأَوْلَادِ»(ابن حجر. ۱۳۷۹ه.ق، ج۱۳/ص۱۱۳).

ژباړه: د سړي د کورنۍ پالنه داده چې د هغو چارې به سموي، او ددوی حقوق به پوره ورکوي او د ښځې لخوا د کورنۍ پالنه داده چې کورنۍ چارې به تنظیموي او د اولاد پالنه به کوي.

۱- ۳- د اولادنو شخصیت جوړونه کول: پر والدینو لازم دي چې د خپلو زامنو شخصیت جوړونه وکړي، ځکه کمزورې شخصیت ددې لامل کېږي چې ځوان داسې ناوړه اعمالو ته مخه کړي او د نیشه یې توکو په دې سیند لاهو شي.

د: اولادونو ته په پیسو ورکولو کې اعتدال کول: په نیشه یې توکو د اخته کېدنې یو ستر لامل د ځوانانو سره د ډېر مال او دولت موجودیت دی، ډېر مال او دولت سره عیش او عشرت راځي او عیش او عشرت د فساد د ودې کولو لپاره ښه زمینه ده.

په دې اساس والدینو ته په کار دي چې خپلو اولادونو ته ډېرې پیسې په واک کې ورنکړي او وخت په وخت له هغو سره محاسبه وکړي.

۲- د نېک او صالح ملګري غوره کول

ملګرې په ملګري مستقیم تاثیر لري، کولی شي چې نېک شخص څخه بد او بد شخص څخه نېک انسان جوړ کړي، له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: "الْمَرْءُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ، فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِطُ " في رواية" مَنْ يُخَالِلُ" (شیباني،۱۴۲۱ه.ق،ج۱۳/ص۳۹۸). ژباړه: سړی د خپل ملګري په دین وي، تاسې دې هر یو خپل ځان وګورئ چې له چا سره ګډ ګرزي په بل روایت کې راځي چې له چا سره ملګرتیا لري.

همدارنګه په نورو روایتونو کې د نېک ملګري سره په ملګرتیا کولو تاکید شوی دی په صحیح روایت کې راغلي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «لاَ تُصَاحِبْ إِلاَّ مُؤْمِنًا، وَلاَ يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلاَّ تَقِيٌّ» (الترمذي،۱۳۹۵ه.ق، ج۴/ ص۶۰۰). ژباړه: ملګرتیا مه کوه مګر مومن سره او ستا طعام دې نه خوري مګر نېک شخص.

مبارکفوري رحمه الله د حدیث په شرح کې لیکي:« إِنَّمَا حَذَّرَ مِنْ صُحْبَةِ مَنْ لَيْسَ بِتَقِيٍّ وَزَجَرَ عَنْ مُخَالَطَتِهِ وَمُؤَاكَلَتِهِ لِأَنَّ الْمَطَاعِمَ تُوقِعُ الْأُلْفَةَ وَالْمَوَدَّةَ فِي الْقُلُوبِ»(مبارکفوري،ب،ت،ج۷/ص۶۴). ژباړه: هغه څوک چې نېک نه وي د هغه له ملګرتیا او هغه ته له ډوډۍ ور کولو څخه یې ځکه منع وکړه چې مېلمستیاوې په زړونو کې مینه او دوستي اچوي.

یعنې: څوک چې مېلمستیاوې خوري طبعاً د یو بل دوستان کېږي او یو له یو بل څخه متأثر کېږي چې کېدلی شي په دې سره روغ سړی د نېشه یې سره په راشه درشه نېشه یې شي چې دا تجربو ښه ثابته کړې هم ده.

د بدو خلکو ملګرتيا دومره تاثير لري چې په دې دنيا خو څه کوې آن په اخرت کې هم د بدبختي سبب ګرزي الله جل جلاله فرمايي: «الْأَخِلَّاءُ يَوْمَئِذٍ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ إِلَّا الْمُتَّقِينَ (٦٧) يَاعِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنْتُمْ تَحْزَنُونَ» (الزخرف: ٦٧، ٦٨). ژباړه: کله چې هغه ورځ راشي نوله تقوا دارو خلکو پرته نور ټول دوستان به يو د بل دښمنان شي .

په هغه ورځ به هغو خلکو ته چې زمونږ پر ايتونو يې ايمان راوړی وْ او امر منونکي وو وويل شي چې «ای زما بندګانو! نن ستاسې لپاره څه وېره نه شته او نه به دربانديې څه غم راشي .

مفسرين ددې ايت په تفسير کې وايي:« أَنَّ الْخُلَّةَ إِذَا كَانَتْ عَلَى الْمَعْصِيَةِ وَالْكُفْرِ صَارَتْ عَدَاوَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا الْمُتَّقِينَ يَعْنِي الْمُوَحِّدِينَ الَّذِينَ يُخَالِلُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا عَلَى الْإِيمَانِ وَالتَّقْوَى، فَإِنَّ خُلَّتَهُمْ لَا تَصِيرُ عَدَاوَةً» (الرازي، ١۴٢٠ه.ق، ج٢٧/ ص ٦۴١). ژباړه: ملګرتيا چې کله د ګنهګارو او کفارو سره وي، دا به د قيامت په ورځ بيا يو بل سره دښمن وي، مګر متقيان هغه څوک چې يو له بل سره په ايمان او تقوي ملګرتيا کوي دوی به يو له بل سره دښمنان نه وي.

۳- د نېښه يې توکو کاروباريانو او استعمالونکو ته درنه سزا ټاکل

په ټولنه کې د نېښه يې توکو څخه د مخنيوي بله لاره داده چې د نېښه يې توکو کارونکي ته درنه سزا وټاکل شي، تر څو دده لپاره سزا او د نورو لپاره پند شي، دا څکه چې په ټولنه کې د نېښه يې توکو دودول ستر فساد دی، په دې سره ټولنه کې ګډوډي او دځوانانو د انحراف لامل کېږي، هغه څوک چې په ټولنه کې فساد خپروي د هغه په هکله الله جل جلاله فرمايي: «إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا » (المائدة: ٣٣). ژباړه: کوم خلك چې له الله او د هغه له پېغمبر سره جنګېږي او په ځمکه کښې ددې له پاره منډې تړې کوي چې فساد را ولاړ کړي.

مفسرين د (وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا) په تفسير کې وايي: وَذَلِكَ بِأَنْ يَخْدَعُوا ضَعِيفًا، وَيَسْتَخْرِجُوا نَوْعًا مِنَ الْمَكْرِ وَالْكَيْدِ عَلَى سَبِيلِ الْخُفْيَةِ (الرازي، ١۴٢٠ه.ق،ج١٢/ص٣٩٨).

چې دوی په ګناهونو سره فساد خپروي او يا يو ډول پټ مکر او چلونه رواجوي چې په ښکاره نه برېښي

ابن قيم رحمه الله روايت را نقل کړی هغه کې راغلي يو تن چې رويشد نومېده ويل کېږي چې نصراني وو،شراب يې په کور کې جوړل او بيا يې پلورل عمر رضی الله د هغه کور وسوزاوه.«أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ: حَرَّقَ بَيْتَ رُوَيْشِدٍ الثَّقَفِيِّ، لِأَنَّهُ كَانَ يَبِيعُ الْخَمْرَ، وَقَالَ لَهُ: أَنْتَ فُوَيْسِقٌ، وَلَسْتَ بِرُوَيْشِدٍ» (ابن القيم، ب.ت،ص٢٣٧). ژباړه: عمر بن الخطاب رضی الله عنه د روشيد الثقفي کور وسوزولو څکه ده شراب خرڅول بيا يې ورته وويل: ته رويشد(سمې لارې ته لارښونکي) نه بلکې فويسق(فاسق) يې.

په بل روايت کې راغلي : «عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ أَنَّهُ أُتِيَ بِقَوْمٍ قَعَدُوا عَلَى شَرَابٍ مَعَهُمْ رَجُلٌ صَائِمٌ فَضَرَبَهُ وَقَالَ: لَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ» (شوكاني، ١۴١۴ه.ق، ج٢/ص ١٥٠).

عمر بن عبدالعزيز ته يوه ډله شراب خواره راوستل شول، تر څو حد پرې قائم کړي، ددې شرب خوړونکو په مينځ کې يو روژه دار هم وو، هغه هم درو ووهل شو، بيا يې وويل: له دوی سره مه کېنئ تر څو چې په بل کار نه وي مشغول شوي يعنې په دې ايت يې استدلال وکړ: «وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ وَإِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطَانُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ» (الأنعام: ٦٨) (الخالدي، ٢٠١٦م، ص١٧). ژباړه: او ای محمده! کله چې ته وګورې چې خلك زمونږ په ايتونو کښې نکتې لټوي نو د هغو له څنګ نه پاڅېره تر دې پورې چې هغوی دا بحثونه پرېږدي په نورو خبرو پېل وکړي. او که کله شيطان تا په هېره کښې واچوي نو چې څه وخت دا خطا احساس کړې له هغه وروسته بيا ددې ظالمانو څنګ ته مه کښېنه.

۴- امر بالمعروف و النهي عن المنكر فريضه سرته رسول

د ټولنې د اصلاح او له منکراتو څخه د مخنيوي يوه غوره شرعي لاره د امر باالمعروف والنهي عن المنکر فريضه سرته رسول دي، دا وضحه خبره ده چې امر بالمعروف داسې فريضه ده چې په دې سره د ټولنې اصلاح راځي له ټولنې څخه منکرات چې يو ډول يې نيشه يي توکي هم دي مخه نيول کېږي.

د امر بالمعروف والنهي عن المنکر په هکله خو ګڼ ايتونه او احاديث موجود دي، دا يوه مستقله موضوع ده دلته يواځې د يو حديث په ذکر کولو سره بسنه کوو. «عن النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- :« مَثَلُ الْقَائِمِ عَلَى حُدُودِ اللَّهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا كَمَثَلِ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا عَلَى سَفِينَةٍ فَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَعْلاَهَا وَأَصَابَ بَعْضُهُمْ أَسْفَلَهَا فَكَانَ الَّذِى فِى أَسْفَلِهَا إِذَا اسْتَقَوْا مِنَ الْمَاءِ فَمَرُّوا عَلَى مَنْ فَوْقَهُمْ آذَوهُمْ فَقَالُوا لَوْ أَنَّا خَرَقْنَا فِى نَصِيبِنَا خَرْقًا فَاسْتَقَيْنَا مِنْهُ وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا فَإِنْ تَرَكُوهُمْ وَمَا أَرَادُوا هَلَكُوا جَمِيعًا وَإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِمْ نَجَوْا جَمِيعًا» (البخاري،۱۴۲۲هـ.ق،ج۳،ص۱۳۹). ژباړه:نعمان بن بشير رضى الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د هغه چا مثال چې د الله حدود او احکام عملي کوي او د هغه چا مثال چې دا حدود او احکام نه عملي کوي داسې دی لکه يو قوم چې د دوه منزله کشتۍ ځينې پورته منزل او ځينې ښکته منزل کې سپاره وي، لاندې منزل والا که کشتۍ سوری کړي او اوبه راوباسي نو خامخا به پورته منزل والا ته زيان ورسوي، که دوي ووايي چې مونږ خپله برخه کې کشتۍ سوری کوو او اوبه را اخلو پورته خلکو ته تاوان نه رسوو، نو که پورتني خلک د دوی مخه ونه نيسي، خامخا به ټول غرق شي او که منع يې کړي نو ټول به نجات وموميِ.

دې حديث کې دېته اشاره وشوه چې که ټولنه کې امر بالمعروف نه وي، نو ټوله ټولنه به هلاکه شي، يا په بل عبارت که د منکر يا نيشه يي توکو کارونکو مخه ونه نيول شي، ټوله ټولنه به پرې اخته شي او که مخنيوي يې وشي، ښکاره خبره ده چې ضرور به دا ناوړه عمل کم او يا هم بيخي ورک شي.

۵- د ګناه او نيشه يې توکو له مرکزونو څخه ډډه کول

انسان ته په کار دي چې هم په خپله او هم خپل اولادونه داسې ځايونو او مجلسونو ته له ورتللو مخنيوی وکړي چې هلته د نيشه يي توکو او يا نورو منکراتو د موجوديت شک وي، دا د منکراتو او نيشه يي توکو له استعمال څخه د مخنيوي بله لاره هم ده.

رسول الله صلي الله عليه وسلم په دې اړه فرمايي: «الحَلاَلُ بَيِّنٌ، وَالحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَهُمَا أُمُورٌ مُشْتَبِهَةٌ، فَمَنْ تَرَكَ مَا شُبِّهَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ، كَانَ لِمَا اسْتَبَانَ أَتْرَكَ، وَمَنِ اجْتَرَأَ عَلَى مَا يَشُكُّ فِيهِ مِنَ الإِثْمِ، أَوْشَكَ أَنْ يُوَاقِعَ مَا اسْتَبَانَ، وَالمَعَاصِي حِمَى اللَّهِ مَنْ يَرْتَعْ حَوْلَ الحِمَى يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ»(البخاري،۱۴۲۲هـ.ق،ج۳،ص۵۳). ژباړه: حلال ښکاره دي، حرام هم ښکاره دي، ددوی په مينځ کې ځينې شکمن امور شتهِ، نو څوک چې هغه څه پرېږدي چې د هغه له نظره ګناه ښکاري، نو چې کله يې ښه وپېژني ضرور به يې پرېږدي، خو که څوک يې د کولو جرئت وکړي، قريبه ده چې دی به په کې واقع شي، ګناهونه د الله چراګاه(پټې) دي څوک چې د پټو شاه اوخوا مال څروي خامخا به تړې په کښت کې ګډېږي.

ابن حجر رحمه الله ددې حديث په شرح کې ليکي: رسول الله صلى الله عليه وسلم د مالونو مثال ځکه ورکړ چې پخوانيو عرب پاچاهانو به د خپلو مالونو لپاره څړ ځايونه مشخص کړي وو، چا به چې له اجازې پرته هلته مال څرولو هغو ته به يې سخته سزا ورکوله، نو نبي صلى الله عليه وسلم دوی ته همغه مثال ور ياد کړ. دويته يې دا وښودله چې که څوک د پاچا له سزا وېرېږي هغه بايد مالونه له دې څړ ځايونو لرې وڅروي او که وېره نه لري، او دلته يې نږدې نږدې څروي ضرور به تړې ګډ شي او د سزا وړ به شي (ابن حجر،۱۳۷۹هـ.ق،ج۱/ص ۱۲۸).

په يو بل روايت کې راغلي: « عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ مَعَ إِحْدَى نِسَائِهِ، فَمَرَّ بِهِ رَجُلٌ فَدَعَاهُ، فَجَاءَ، فَقَالَ: «يَا فُلَانُ هَذِهِ زَوْجَتِي فُلَانَةُ» فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ كُنْتُ أَظُنُّ بِهِ، فَلَمْ أَكُنْ أَظُنُّ بِكَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ

يَجْرِي مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ»(النيشاپوري،ب.ت،ج۴/ص۱۷۱۲). ژباړه: له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم له خپلې یوې ښځې سره و، یو سړی پر لاره تېرېده دوی یې ولېدل راویې غوښت ورته یې وویل: دا زما فلانۍ ښځه ده، هغه ورته وویل: یارسول الله! ما خو پرتا څه بد ګمان نه دی کړی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: شیطان په انسان کې د رګونو د وینې په څېر ګرزي راګرزي.

محدثینو ددې حدیث په فواېدو کې ویلي چې له دې څخه ښکاري چې د تهمت او تور له ځایه باید ځان وساتل شي، تر دې چې امام بیهقي ددې حدیث لپاره باب اېښی: « فَصْلٌ فِيمَنْ أَبْعَدَ نَفْسَهُ عَنْ مَوَاضِعِ التُّهَمِ» (بیهقي، ۱۳۴۴ه.ق،ج۹/ص ۱۳۰).

همدارنګه ستر مفسر امام طبري رحمه الله ددې ایت : (فَلاَ تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ)په تفسیر کې لیکي: « وفي هذه الآية، الدلالة الواضحة على النهي عن مجالسة أهل الباطل من كل نوع، من المبتدعة والفسَقة، عند خوضهم في باطلهم (الطبري، ۱۴۲۰ه.ق،ج۹/ ص۳۲۱). ژباړه: په دې ایت کې ښکاره دلیل دی چې د ناکاره او فاسقانو مجلس ته ورتلل منع دي، خصوصاً هغه وخت چې دوی په نارواو کې ښکېل وي.

همدارنګه وهبه زحیلي ددې ایت په تفسیر کې لیکي: «فكل من جلس في مجلس معصية، ولم ينكر عليهم يكون معهم في الوزر سواء، وينبغي أن ينكر عليهم إذا تكلموا بالمعصية وعملوا بها، فإن لم يقدر على النكير عليهم، فينبغي أن يقوم عنهم، حتى لا يكون من أهل هذه الآية» (الزحيلي،۱۴۱۸ه.ق، ج۵/ ص ۳۲۴). ژباړه: هر څوک چې د ګناه په مجلس کې کېني او هغوی منع نه کړي دی ورسره په ګناه کې برابر دی، ده ته په کار دي چې دوی له دې کاره منع کړي، که یې د منع کولو وسه نه درلوده بیا خو په کار ده چې له مجلسه پورته شي، تر څو ددې ایت مصداق ونه ګرزي. لنډه دا چې د ګناهونو او منکراتو په څېر د نېشه یي توکو د استعمال څخه د مخنیوي یوه لاره د شکمنو او بېکاره مجلسونو ته له ورتګ څخه ډډه کول دي چې شرعي نصوصو مونږ ته راښوولې ده.

٦- ځوانانو ته د کار زمینه برابرول

د نېشه یې توکو د استعمال یو مهم سبب بېکاري او وزګارتیا ده، کله چې ځینې ځوانان کار ونلري، او بېکاره ګرزي، طبیعي خبره ده چې هغه به د خپل اقتصادي بوج لرې کولو لپاره غلا، شوکې او نور فسادونه کوي او یا به د خپلې بېکاري د رفع کولو لپاره نېشې او مخدره موادو استعمال ته مخه کوي، همدا لامل دی چې اسلامي شریعت پر کارکولو ټینګار کړی، کارګر یې ستایلی او اسلامي دولت ته یې دنده سپارلې چې خلکو ته باید دکار زمینه مساعده شي.

د اسلام سپېڅلي دین چارواکو ته توصیه کوي چې باید هر مسلمان ته د کار زمینه برابره شي، په دې کار سره به له لوري د خلکو شتمني له غلا او غصب له تېریو څخه وساتل شي، ځکه ډېر ځلې د ضرورت په خاطر یو څوک په غلا او له خلکو څخه په شوکې کولو لاس پورې کوي او له بل لوري به بېکاره وګړو ته د کار زمینه برابره دوی به د نېشه یې توکو له استعمال او بې ځایه ګرزېدو څخه وژغورل شي.

په دې هکله یو روایت راغلی چې: یو تن رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او خیرات یې تري وغوښت، بیا نبي صلی الله علیه وسلم ده ته وویل په کور کې څه لرې؟ هغه وویل: یوه شړۍ او یوه کاسه لرم، هغه یې راوغښتل او خرڅ یې کړل، په روپیو یې ورته تبر او پړی واخستل او کس ته یې حکم وکړ چې غره ته به ځې لرګي به راوړې او د اولاد نفقه به ګټې، هماغه وو چې لږ وخت کې یې اقتصادي وضعه ښه شوه (سجستاني، ۱۴۳۰ه.ق،ج۲/ص ۱۲۰).

په دې حدیث کې د کار قانون بیان شوی او د کار لپاره ښه قانون دی، له دې حدیث څخه ښکاري چې:

الف: وزګارو خلکو ته لازمه ده چې د وخت چارواکي ته ورشي او د کار غوښتنه دې تري وکړي.

ب: وزګارو خلکو ته د دولت له خوا د کار پیدا کولو د حق ثبوت.

ج: په دولت لازم دي چې د هرچا لپاره د مناسب کار د پیدا کولو هلې ځلې وکړي.

د: د وخت چارواکي باید د وزګارو خلکو له حالاتو ځان خبر کړي او د دوی له وضیعت څخه ډاډ ترلاسه کړي.
هـ: کاریګر ته د کار د الاتو او اسبابو تیارول مستحب او غوره عمل دی، ځکه چې نبي صلی الله علیه وسلم هغه کس ته برابر کړي وو.
و: د چارواکو له خوا ځارنه کولو څخه برېښي، په دولت لازمه ده چې د خاص او عام ملکیت ځارنه وکړي (خطیب،۱۳۸۵هـ.ش،ص ۱۴۰).
په دې اساس د نښه یي توکو د استعمال څخه د مخنیوي بدیله لاره وزګارو وګړو ته کار پیدا کول او د هغوی بېکاري ختمول دي.

۷- خلګو ته د نښه یي توکو د زیانونو په هکله عامه پوهاوی ورکول

ډېر خلک خصوصاً ځوانان داسې وي چې د نښه یي توکو له زیانونو څخه خبر نه وي، هغه څوک یې چې پرې روږدی کوي هغه یې ورته ډېرې ګټې بیان کړي، دومره یې تشویق کړي چې د هغه زړه یې ومني تردې چې همدا کار شروع کړي.
خو که د دولت یا بل چا له لوري په هکله عامه پوهاوی وشي، خلک د نښه یي توکو له زیانونو څخه خبر شي، ددې ناوړه پدېدې ضررونه د خلکو په ذهن کې کښې کېدای شي چې ډېر خلک دې کار ته له مخې کولو څخه ډډه وکړي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېرو اقوالو کې د نښه یي او مسکراتو شیانو د ضررونو په اړه خبرداری ورکړی او خلکو ته یې ښوولې چې دا ډېر ناکاره ځیزونه دي. په حدیث کې راغلي: «عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله علیه وسلم- « الْخَمْرُ أُمُّ الْخَبَائِثِ » (دارقطني، ۱۴۲۴هـ.ق،ج۱۰/ص ۴۷۳). ژباړه: له عبدالله بن عمرو څخه روایت دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: شراب د ټولو ګنده ګیو مور ده.

د ابن عباس رضی الله عنه په روایت کې راغلي: «الْخَمْرُ أُمُّ الْفَوَاحِشِ وَأَكْبَرُ الْكَبَائِرِ مَنْ شَرِبَهَا وَقَعَ عَلَى أُمِّهِ وَخَالَتِهِ وَعَمَّتِهِ» (دارقطني، ۱۴۲۴هـ.ق،ج۵/ص ۴۴۴). ژباړه: شراب څښل د ټولو فواحشو مور او کبیره ګناه ده، چا چې وڅښل دا داسې دی لکه له مور، خاله او عمې سره یې چې زنا کړي وي.

ابن کثیر په خپل تفسیر کې د سورت مائدې ۹۰ ایت په تفسیر کې یو قول رانقل کړی بیا یې بیهقي ته منسوب کړی او وایي چې بیهقي صحیح ګڼلی دی هغه دا چې عثمان بن عفان رضی الله عنه وایي چې له شرابو ځان وساتئ ځکه چې شراب د ټولو ګنده ګیو مور ده بیا یې اوږده کیسه رانقل کړې چې یو زاهد او نېک سړی ښځې دوکه کړ بیا یې ورته وویل چې یا دربانديې خلک خبروم او یا به دا ماشوم وژني یا به ماسره زنا کوې او یا به شراب څښې، زاهد شراب خوښ کړل کله یې چې شراب وڅښل دا ټول کارونه یې بیا وکړل نو ځکه شراب د خبائثو مور بلل شوې ده (ابن کثیر، ۱۴۲۰هـ.ق، ج۳/ص ۱۷۰).

لنډه دا چې که د نښه یي توکو د زیانونو په هکله د دولت لخوا او یا عامو خلکو او یا هم دامامانو لخوا عامه پوهاوی وشي، د هغو له زیانونو خلک خبر شي، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د شرابو د زیانونو په اړه خلکو ته خبرداری ورکړی او امت یې متوجه کړی دی.
که ددې مسکراتو زیانونو په هکله د خلکو پوهاوی ډېر شي، دوی شعوري پوه شي چې دا زما دین او دنیا دواړو ته زیان دي، خامخا به دوی دا درک او ددې ځیزونو سره د مقابلې په وړاندې به ودریږي او هم به خپل ځان او کورنۍ ترې وساتي.

پایله

ددې څېړنې په پایله کې دې ته رسیږو چې:
۱. نښه یي توکو استعمال فرد، ټولنې او په مجموع کې ټول انسانیت ته ستر زیان دی.

۲. مونږ ټول هم په فردي شکل او هم په اجتماعي شکل ددې مسؤل یو چې د نېشه یي توکو په مخنیوي کې باید خپلې هڅې ونه سپمو.
۳. په مجموع کې پلار، دولت او هر مسؤل د نېشه یي توکو د استعمال په مخنیوي کې ستر رول لري.
۴. په ټولنه کې د نېشه یي توکو د استعمال نه مخنیوي فرد او ټولنه په دنیا او اخرت کې له سترو زیانونو سره مخ کولی شي.
۵. په دې لړ کې اووه مهمې لارې چارې تر ټولو اغېزمنې تمامېدلی شي: د والدینو رول، د نېک ملګري غوره کول او د فاسدو مجلسونو څخه ځان ساتل، د کاروباریانو او نېشه یي توکو کاروونکو لپاره سزا ټاکل، د منکراتو د له منځه وړلو په موخه د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پیاوړتیا ، له شکمنو ځایونو او د ګناه له مرکزونو ډډه کول، د ځوانانو لپاره د کار زمینې برابرول او د د دیني او اجتماعي تبلیغ له لارې عامه پوهاوي خپرول.
٦.

وړاندیزونه

۱- د دولت او قانون په کچه: اسلامي امارت مشرتابه ته مې وړاندیز دادی چې:

- د پخوا په څېر ددې ناوړه پدېدې په مخنیوي کې دې نور هم چټک ګامونه واخلي.
- دولت دې د نشه یي توکو د کاروباریانو پر ضد کلک قوانین عملي کړي او د دوی د جزا په تطبیق کې دې هېڅ ډول نرمښت ونه ښیي.
- د بېکارۍ د کمولو لپاره دې د ځوانانو لپاره د کار او کسب فرصتونه رامنځته شي.
- د نشه یي توکو د کر، قاچاق او تولید سرچینې دې په جدي ډول له منځه یوړل شي.

۲- د کورنۍ په کچه: د کورنیو مشرانو ته مې وړاندیز دی چې:

- والدین دې د خپلو اولادونو سره نږدې اړیکې وساتي او د هغوی ستونزې دې د حوصلهمندۍ او نرمتیا سره حل کړي.
- والدین دې د خپلو ماشومانو لپاره د عملي قدوه حیثیت ولري، او د نشه یي توکو له هر ډول استعمال او سوداګرۍ دې په خپله لرې پاتې شي.
- د کورني روزنې او اسلامي تربیې له لارې دې د ماشومانو د شخصیت جوړونې ته ځانګړې پاملرنه وشي.

۳- په تعلیمي او فرهنګي کچه:

- د ښوونځیو او پوهنتونونو په نصاب کې دې د نشه یي توکو د زیانونو او د شریعت د حکمونو په اړه ځانګړي درسونه ځای پر ځای شي.
- علما، استادان او خطیبان دې د منبر او رسنیو له لارې د نشه یي توکو پر ضد د اسلامي لارښوونو عامه پوهاوی خپور کړي.
- د ټولنیزو کمپاینونو له لارې دې د ځوانانو ذهنیت د دې بلا پر وړاندې منفي کړل شي.

۴- د ملګرتیا او ټولنیز چاپېریال په کچه: ځوانانو ته مې وړاندیز دی چې:

- ځوانان دې تل د نېکانو، علماو او صالحو ملګرو ملګرتیا غوره کړي.
- ټولنې دې د فاسدو مجلسونو او شکمنو ځایونو څخه د ځان ساتلو فرهنګ پیاوړی کړي.

- د سالمو ټولنيزو فعاليتونو لکه سپورت، کلتوري پروګرامونو او د مهارتونو کورسونو له لارې دې د ځوانانو وخت مثبت لوري ته واړول شي.
-

۵- د رسنيو په او تبليغاتو په کچه: د اطلاعاتو کلتور وزارت ته وړاندیز کوم چې عامه میډیا، تلویزون، رادیوګانو او نورو رسنیو ته دنده وسپاري چې له نېشه يي توکو څخه د مخنيوي لارو چارو او هم ددوی د زیانونو په اړه ځانګړي پروګرامونه ترتیب کړي.

مصادر او مراجع

۱. قران کریم

۲. ابن قيم الجوزية، محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين.(ب.ت).الطرق الحكمية،الناشر: مكتبة دار البيان، الطبعة.

۳. ابن حجر العسقلاني، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل الشافعي.(۱۳۷۹ه.ق). فتح الباري شرح صحيح البخاري، الناشر: دار المعرفة – بيروت.

۴. ابن كثير، أبو الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير الدمشقي.(۱۴۲۰هـ - ۹۹۹ م). تفسير ابن كثير،المحقق: سامي بن محمد سلامة،الناشر: دار طيبة للنشر والتوزيع،الطبعة: الثانية .

۵. البخاري ، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة ، ابوعبدالله.(۱۴۲۲ه).صحيح البخاري،دارالطوق النجاة.

٦. البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين بن علي البيهقي.(۱۳۴۴ هـ).شعب الإيمان، الناشر : مجلس دائرة المعارف النظامية الكائنة في الهند ببلدة حيدر آباد.

۷. الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، أبو عيسى.(۱۳۹۵ هـ ۱۹۷۵ م). سنن الترمذي،مصر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي، درہم چاپ.

۸. التويجري، محمد بن إبراهيم بن عبد الله.(۱۴۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م).موسوعة الفقه الإسلامي، الناشر: بيت الأفكار الدولية، الطبعة: الأولى.

۹. الخالدي، دوكتور، محسن.(۲۰۱٦م).التدابير الوقايوية لحماية المجتمع من المخدرات، جامعة النجاح الوطنية، فلسطين.

۱۰. خطيب، دوكتور محمود.(۱۳۸۵ه.ش).د اسلامي اقتصاد اساسات، ژباړه: مولوي محمد شريف رحماني، جمعية اصلاح چاپ جلال اباد.

۱۱. الدارقطني، أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي البغدادي.(۱۴۲۴ هـ - ۲۰۰۴ م). سنن الدارقطني،حققه وضبط نصه وعلق عليه: شعيب الارنؤوط، و اخرون، الناشر: مؤسسة الرسالة، بيروت – لبنان، الطبعة: الأولى.

۱۲. الرازي،أبو عبد الله محمد بن عمر بن الحسن بن الحسين التيمي الملقب بفخر الدين.(۱۴۲۰ هـ). التفسير الكبير،الناشر: دار إحياء التراث العربي – بيروت،الطبعة: الثالثة .

۱۳. الزحيلي، د وهبة بن مصطفى.(۱۴۱۸ هـ).التفسير المنير في العقيدة والشريعة والمنهج، الناشر : دار الفكر المعاصر – دمشق، الطبعة : الثانية.

۱۴. سجستاني،أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي.(۱۴۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م).سنن ابى داود، المحقق: شعَيب الأرنؤوط - محَمَّد كامِل قره بللي، بيروت: دار الرسالة العالمية.

۱۵. الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله اليمني.(۱۴۱۴ هـ). فتح القدير،الناشر: دار ابن كثير، دار الكلم الطيب - دمشق، بيروت،الطبعة: الأولى .

۱٦. الشيباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد.(۱۴۲۱ هـ - ۲۰۰۱ م). مسند احمد، المحقق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي، بيروت: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ.

١٧. الطبري،محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر.(١٤٢٠ هـ - ٢٠٠٠ م).جامع البيان في تأويل القرآن،المحقق: أحمد محمد شاكر، الناشر: مؤسسة الرسالة، الطبعة: الأولى.
١٨. العسقلاني، أحمد بن علي بن حجر أبو الفضل الشافعي.(١٣٧٩ه).فتح الباري، رقم كتبه وأبوابه وأحاديثه: محمد فؤاد عبد الباقي، الناشر: دار المعرفة – بيروت.
١٩. المباركفورى،أبو العلا محمد عبد الرحمن بن عبد الرحيم.(ب.ت).تحفة الأحوذي بشرح جامع الترمذي،الناشر: دار الكتب العلمية – بيروت.
٢٠. النيشابوري، مسلم بن الحجاج ابوالحسن.(ب ت). صحيح مسلم، المحقق:محمد فؤاد عبدالباقي، بيروت:دار احياء التراث العربي.

Legal and Sharia-based mechanisms for preventing the use of narcotic drugs

Roohullaha Najam[1] & Ehsanullah Faisal[2]

Abstract

Drug abuse constitutes a significant social and legal challenge that adversely affects individual well-being and social stability. Islamic law (Sharia) prohibits the use of harmful substances and establishes preventive principles aimed at safeguarding intellect, health, and public welfare. Given the growing impact of narcotic drugs on contemporary societies, examining preventive mechanisms within an Islamic legal framework is of considerable importance. This study aims to analyze the Sharia-based and legal measures for preventing drug abuse in light of the Qur'an and Sunnah. The research adopts a descriptive-analytical approach based on classical and contemporary library sources, focusing on Islamic jurisprudential principles and relevant legal regulations.

The findings demonstrate that Islamic law emphasizes both individual and collective responsibility in preventing narcotic use. Preventive strategies include moral education, family supervision, community awareness, and state enforcement measures. The study concludes that coordinated efforts among families, religious scholars, policymakers, and legal institutions can substantially reduce the prevalence of drug abuse and mitigate its social consequences.

Keywords: Islamic law, Sharia, drug abuse prevention, narcotic substances, legal measures

[1] Academic Staff Member of Law and Political Science Faculty, Kabul University, Kabul, Afghanistan. roohullahnajam786@gmail.com

[2] Academic Staff Member of Law and Political Science Faculty, Kabul University, Kabul, Afghanistan. ehsanullh@gmail.com.